بسم الله الرحمن الرحيم

# نړیواله ازادي ښځو ته په پاملرنه کې ناکامه ده

**خبر**

بي بي سي د جنوري په ۲۰مه یو خبر خپور کړ، په هغه خبر کې راغلي و، چې د نړۍ ۳/۱ هغه ببوزله نجونې ښوونځیو ته له تلو بې برخې دي، چې عمرونه یې له ۱۰-۱۸ کلونو تر منځ دي. د یونیسف د راپور له مخې فقر او تبعیض د میلیونونو ځوانو ښځو او نجونو د بې سواده کېدو لامل شوي دي، چې ډېره برخه یې د افریقا په وادي کې ببوزلې کورنۍ جوړوي. یونیسف په خپل راپور کې خبرداری ورکړی، چې په ټوله کې د نړۍ ببوزله ماشومان ښوونځیو ته لاسرسی نه لري. په نړۍ کې له پنځو کورنو څخه د درېیو کورنو نجونې یې ښوونځیو ته هېڅکله هم نه دي تللې. دا د تعلیم یو ناوړه حالت دی، چې د ښوونې او روزنې د بودیجې سره یوازې د شتمنو خلکو ماشومانو ته د تعلیم برابرېږي.

**تبصره**

دا نوې څېړنې هغه اصلي واقعیت په ډاګه کوي، چې په غرب کې د ښځو او نجونو ارزښت (د ښځې او نر برابري) تش په نامه د سیاسي موخو د لاسته راوړلو لپاره کارېږي. د افریقایي دولتونه د بیلیونه ډالرو توان لري، ترڅو د دغه ملت شتمنۍ راوباسي او ګټه ترې واخلي. په سیمه کې له نړیوال پلان څخه ښکاري، چې دلته بهرنۍ کړۍ فعالې دي، چې په سیمه کې له جګړو څخه ګټه اخلي. بل عامل د کار کمه تنخوا ده، چې بهرنۍ کمپنۍ په ټیټه تنخوا کارکوونکي استخداموي، ترڅو خپل تولید بازار ته په ډېره ګټه وړاندې کړي، چې دا هم د ښځو او نجونو د سواد په کیفیت منفي اغېز کوي.

د بریتانیا د بهرنیو چارو وزیر بورېس جانسن وایي، چې اسلام د ښځو د پرمختګ لپاره یو خنډ دی. په هغه هېوادونو کې چې فقر او کورنۍ جګړې دي، زیات شمېر خلک یې د راډیکال کېدلو غوښتنه کوي او د ښځو او نجونو د بې سوادۍ اصلي علت د دوی د تعلیم پروسه ده. نوموړي د کپیټلېزم د رسوایۍ له امله ونه شو کولی، چې له استعماري او نشنلیستي ارزښتونو څخه یادونه وکړي، ځکه دا په نړۍ کې د اوسنیو دولتونو یو فساد دی، چې غواړي د اړو خلکو له ژوند څخه شتمنو خلکو په ګټه کار واخلي. هغه چارواکي چې غرب په اسلامي خاورو کې ټاکلي، خپل جیبونه یې د ملتونو شتمنیو ته پرانیستي دي او د هېوادونو پر سقوط او ناورینونو باندې یې سترګې پټې کړي دي. هغه سیمه چې په راپور کې یې په اړه خبرې وشوې، یو وخت په نړۍ کې د فعال پوهنتون، تعلیمي او څېړنیز مرکز او فکري پرمختګ لپاره یوه غوره بېلګه وه. توپیر یې یوازې دا دی، چې هغه مهال د یوې ثابتې او باوري رهبرۍ له خوا اداره کېده، چې د خلکو چارې به یې له قران او سنتو سره سمې سرته رسولې. خلافت به هېڅکله د خلکو د بې سوادۍ او تعلیم بې پروایي ونه کړي. جنسیت د الله سبحانه وتعالی پر وړاندې تفاوت نه لري او د علم زده کړه یې پر هر مسلمان نر او ښځه باندې فرض کړې ده.

**﴿قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَالَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ إِنَّمَا يَتَذَكَّرُ أُوْلُوا الْأَلْبَاب﴾**

[الزمر:۹]

***ژباړه:** ووايه چې ايا پوه خلک له ناپوه خلکو سره برابر دي؟ نه، يوازې هوښياران د يو شي توپير له بل سره کولی*

د رسول الله صلی الله عليه وسلم ښځه بي بي عايشه رضی الله عنها بايد د ښځو د تعليم لپاره استاده او الګو وي. خلکو به په سلګونو ميله سفر کاوه، ترڅو د هغه له حافظې څخه د رسول الله صلی الله عليه وسلم يو حديث شريف زده کړي.

نو يو څوک به څه ډول ووايي، چې خلافت د ښځو لپاره ستونزې زيږوي؟ په حقيقت کې اوسني غلام نظامونه هبڅکله په نړيواله کچه د ښځو ستونزې حلولی نه شي.

د مسلمانو ښځو ستونزې به هغه مهال حل شي، چې د الله سبحانه وتعالی قانون پر مسلمانانو باندې حاکم شي او د اسلام خپلواک سياسي نظام (خلافت) تاسيس شي. موږ به الله سبحانه وتعالی ته دعا کوو، ترڅو دغه وخت زر راولي او موږ يې په خپلو سترګو ووينو.

## د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر ته

## ليکوال: عمران محمد